همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

# د افغانستان سره د آلمان همکاری
# مطبوعاتی خبر

## د بدخشان محلي حکومت او ملایان د ښې حکومتوالۍ د ټینګښت په باب خبرې اترې وکړې

فیض آباد، بدخشان، د ۱۳۹۵ کال د وری د میاشتې ۳۰مه نیټه – نن د بدخشان ولایت د حج او اوقافو د ریاست استازو د سیمې د ملایانو سره وکتل او په هغه ولایت کې د ښې حکومتوالۍ د هڅولو په باب یې خبرې اترې وکړې. ملایان د سیمې او سیدونکو ته لارښوونه کوي او له همدې امله کولای شي د پیغامونو په رسولو کې د محلي حکومت سره مرسته وکړي. په نننۍ غونډه کې مهمه موضوع داوه چې څنګه د بدخشان د حج او اوقافو د ریاست او د ملایانو تر منځ دا ډول همکاري منځته راشي.

ملایان د خلکو سره نیغه اړیکه لري چې د محلي حکومت د پاره د دې امکان برابروي چې خپل پیغامونه د هغوی له لیارې خلکو ته ولیږدوي. تر اوسه پورې د دوی تر منځ اړیکه نه وه. د دې د پاره چې دغې وضعې ته بدلون ورکړل شي، د بدخشان د ولایت مقام د المان د ښې حکومتوالۍ د ودې د پروګرام (RCD) په ملاتړ د نن ورځې غونډه جوړه کړه.

د بدخشان د حج او اوقانو د ریاست مشر ښاغلي عبدالولی ارشاد وویل: "حکومت د ښو اجراآتو دپاره د خلکو ملاتړ ته اړتیا لري. خو د دې لپاره چې په دولت باندې د خلکو باورتیا زیاته شي، حکومت باید په خپل کار کې په شفافه توګه عمل وکړي." هغه همدارنګه ټینګار وکړ: "مونږ د خلکو سره د اړیکو په ډګر کې د مولوي صاحبانو ارزښتناکه رول تائیدوو. له دې امله مونږ ډیر خوشحاله یو چې نن مو هوکړه وکړه چې په راتلونکي کې به په لاښه توګه یوځای کار وکړو. مونږ هیله لرو چې دا کار به د کارونو د روڼتوب او شفافیت د زیاتوالي سره مرسته وکړي او په پایله کې به د سیمې او سیدونکي د خپلو محلي حکومتونو لا زیات ملاتړ وکړي."

سولې لپاره د عالمانو د ملي شورا مشر، مولوی تاج الدین نور څرګنده کړ: "دا ډیره مهمه ده چې ټول ملایان او دیني مشران د حکومت څخه ملاتړ وکړي. مونږ باید په ګډه کار وکړو تر څو پورې چې زمونږ په ولایت کې د خلکو ژوند سمون ومومي."

د نن ورځې د غونډې په پای کې د حج او اوقافو ریاست او همدارنګه د ملایانو استازو یوه اعلامیه لاسلیک کړه چې په هغې کې د لاښې همکارۍ د پاره د دواړو خواوو په ژمنې باندې ټینګار شوی دی. په نوموړي سند کې ملایانو اعلام وکړ چې دوی به د حکومت په استازیتوب خلکو ته د هغه پیغامونه ورسوي او هغوی به دې ته وهڅوي چې د خپلو محلي حکومتونو څخه ملاتړ وکړي. له بلې خوا، د بدخشان حکومت استازو ژمنه وکړه چې په راتلونکي کې به د ملایانو سره کارونه په لاښه توګه همغږه کړي.

***په افغانستان کې د سیمه ایز ظرفیت د پراختیا (RCD) پروګرام د افغانستان سره د المان د همکارۍ د یوې برخې په توګه د المان د اقتصادي همکاریو او پراختیا د وزارت (BMZ) له خوا تمویلیږي او د Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH د اداري له خوا پلی کیږي. پورتنی پروګرام د افغانستان په شپږو شمالي ولایتونو کې د ولایتونو او ولسوالیو په کچه د افغاني پارتنرو د پراختیایي لومړیتوبونو په پلي کولو کې مرسته کوي او په عین حال کې د دولت ملکي کارکوونکو لپاره روزنیز کورسونه او د لارښودنې پروګرامونه جوړوي. د دغه پروګرام موخه د هغه د کار د پراخې ساحې په پاملرنې سره داده چې په پراختیایي لړیو باندې افغاني مالکیت اوچت کړي، دولتي اداري مظبوتې کړي او شفافیت او د خلکو برخې اخیستنې ته وده ورکړي.***

Released by the PR-Unit of the German Cooperation with Afghanistan.
For further information please contact: pr-unit-afghanistan@giz.de